مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۹/۰۱/۲۳

# د مينځني ختيځ لپاره زيات مکتبونه او لږ ټانکونه

د امريکا مشهور سياسي مبصر او نامتو ليکوال، تامس فريډمن، د جنوري پر ۲۲ په نيويارک ټايمز کي ليکي د جمهور رئيس ټرمپ دا ناڅاپه اعلان چي له سوريې څخه به امريکايي عسکر راباسي، او په افغانستان کي به يې شمير راکم کړي، زيات سوالونه راپورته کړي دي. يوه پوښتنه دا ده چي آيا په مينځني ختيځ کي د امريکا د عسکرو ساتل حياتي دي؟ دا هغه سوال دئ چي زه ئې هم له ځان سره مطرح کوم.
د دې پوښتني د ځواب لپاره بايد اول د تونس په باب څه وويل سي. تونس يوازنی ملک دئ چي د عرب پسرلي څخه سالم راووت. هلته د يوې ديکتاتورۍ له راړنګولو راوروسته، اوس يوه نسبي ديموکراسي ټينګه سوې ده. تونس هغه هيواد دئ چي موږ هلته يو عسکر هم نه دئ استولی. په مقابل کي، موږ په افغانستان کي د ديموکراسۍ د ټينګولو لپاره د کاله ۴۵ مليارډه ډالره مصرفوو. که څه هم د تونس ډيموکراسي لړزانه ده، اما ثبات او د قانون حاکميت پکي سته. که چيري موږ تونس ته د افغانستان د يوې هفتې مصرف ولېږو، تونس به لا باثباته سي.
اوس سوال دا دئ چي ولي تونس پدې وتواندی چي ديموکراسي او ثبات ته ورسېږي؟ د دې سوال جواب دا دئ چي د تونس موسس او پلار، حبيب بورقيبه، يو کوچينی پوځ ساتلی وو. په عوض کي ئې معارفو ته زياته توجه کړې وه. د ښځو تعليم او تربيې ته ئې خاصه توجه کوله. مدني ټولني، لکه اتحاديې، ئې نسبتا قوي ساتلي وې. او بالاخره، خپله انرژي يې د اسرائيلو پر تباه کولو باندي نه ضايع کوله. د تونس بل امتياز دا وو چي تيل ئې لرل، او ښاغلي حبيب بورقيبه همدا پيسې د خپلو خلګو پر تعليم او تربيې باندي مصرفولې.
لنډه دا چي د تونس فرهنګي او اجتماعي بنسټ دونه قوي وو چي د يوه ديموکراتيک انقلاب د هضم ظرفيت يې لاره. واقعيت دا دئ چي سياسي او فرهنګي بدلون ګران وي او زيات وخت ته ضرورت لري. په افغانستان او عراق کي موږ غوښتل چي په عجله کارونه مخته بوزو. د يوه سياسي مبصر په قول:«ستراتيژي د فرهنګ نصوار هم نده.» البته زموږ خپله بې کفايتي - او د هغوی (افغانانو او عراقيانو) فساد - د ديموکراسۍ لپاره زموږ هلي ځلي د سهار له ناشتا سره نوش جان کړې.
پورتني واقعيتونه ما دېته اړ باسي چي ووايم: جمهور رئيس ټرمپ له افغانستانه د امريکايي عسکرو په رااېستلو کي پر سمه لار روان دئ. موږ هلته القاعده ماته کړه، او اوس د دې وخت رارسېدلی دئ چي د طالبانو او پاکستان سره د خپلو عسکرو پر رااېستلو باندي يوې موافقې ته ورسېږو. او زياتره هغه افغانان، چي زموږ سره ئې کار کړی دئ، له ځان سره کونجوغه راوباسو.
بالاخره، زه به د افغانستان له ۴۵ ميليارډو دالرو څخه فقط دوه ميليارډه ډالره په سيمه کي پر هغو فرهنګي کارونو باندي ولګوم چي تونس ئې ممتاز او ځانګړی کړی دئ. زه به په قاهره، بېروت، عراق، او افغانستان کي د امريکن پوهنتونو سره مرستي وکړم. زه به پدې پوهنتونونو کي د سيمې ځوانانو ته سکالرشيپونه زيات کړم. زه به د سيمې د ښځو لپاره په امريکا کي د عالي تحصيلاتو لپاره زمينه پراخه کړم. زه به ايرانيانو ته ۵۰۰۰ سکالرشيپونه ورکړم چي امريکا ته راسي. زه به تونس ته يو ميليارډه ډالره بې نرخه او ګټې قرضه ورکړم. او بالاخره باقي پاته ۴۳ ميليارډه ډالره به په امريکا کي پر زيربنايي کارونو باندي ولګوم.
د سپټمبر له يولسمي راهيسې، موږ په مطلقه توګه پر نظامي طاقت باندي تکيه کړې ده. البته، د نظامي قوي استعمال ته څه ضرورت وو، او په آينده کي به هم څه اړتيا ورته وي، خو په مجموع کي دا طاقت ناکامه سوی دئ. نو لهذا اوس د دې وخت رارسېدلی چي عربو او ايرانيانو ته هغه قوت او امکانات ورکړو، کوم چي په تونس کي يې د ذاتي او دورني بدلون لپاره زمينه برابره کړې وه. د تونس په بدلون کي حتی يوه امريکايي عسکر هم برخه نه وه اخيستې.
البته، دا به ډېر وخت وغواړي، خو د اجتماعي انکشاف او توسعي لپاره قاچاقي او کريزي لنډي لاري نسته. بل دا چي هغه لاري چاري چي زموږ د دفاع وزارت وازمويلې، هغه ټولي ناکامي سوې، او ګرنګونه ته رسېدلي دي.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ